انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱٦/۱۲/۰۷

# پردی نوکر د کور دښمن

لیکونکی: م . ا . نګار ګر

ژباړه او لنډیز: انجنیر سلطان جان کلیوال

**دریيمه برخه**

داچې د پښتو په ژبه کې د نظامی اصطلاحاتو د ترکیب قابلیت د دری ژبی په نسبت زیات دی، نو ځکه زمونږ عسکری اصطلاحات د پښتو نه اخستل شویدی، او دا موضوع بی له شکه سیاسی دلیل هم لری او هغه داچې ایرانئ مشر او ظالم وروړ دی او ضمناً د دوی د ځینو ولایاتو او سیمو نومونه زمونږ د ولایاتو او سیمو سره یوشان دی، د دی یو نومی نه په ګتی اوچتونې سره یی زمونږ ټول فرهنګی ارزښتونه په ځان پوری تړلی دی او که داسی نه وی نو هر ځوک پوهیږی چې د شاهنامی د اکثرو پیښو ځایونه د سیستان، زابل، کابل، سمنګان او نورو ځایونو ښارونه دی ولی ایرانیان دا ځایونه هم د خپل مال په ځیر شمیری. همدا وجه ده چې مونږ د خپل مستقل فرهنګی هویت لرل ضروری ګنو. زمونږ دغه مستقل فرهنګی هویت په هیڅ وجه زمونږ او د ایرانیانو د وروری مانع کیدلی نه شی، خو فرهنګی یووالی باید داسی تعبیر نه شی چې مونږ خپل فرهنګی شخصیت د ایران په فرهنګی شخصیت کی ویلی کړو او لکه د میمون په ځیر چې هر څه هغوی کوی مونږ به یی پیښي کوو. دلته باید یاد ونه وکړم چې د بی بی سی د فارسی په څانګه کی ځنی ایرانی مشربه کسان کار کوی او دوی زیار کاږی چې ځنی کلمی لکه (ارتش)، (چالش) او ځنی جعلی مصدرونه لکه (خوانش ګرفتن) به (تماشا نشستن) او همدی په ځیر نور په دری ژبه باندی تحمیل کاندی. ارتش چې د اوستایی ژبی له (ارتشتار) څخه اخستل شوی او د تا ویدلو یا د ګاډی د ارابی معنی لری ، په مجازی توګه د جنګی سر باز معنی هم ورکوی، خو هیڅکله د اردو مفهوم نه شی ارایه کولی. د اردو کلمه که څه هم د ترکی کلمی نه اخستلی شویده اُردو، آردوزدن، اُردو بازار، اُردوګاه د بیهقی له زمانی څخه تر دا ننه پوری د دری ژبی د لغاتو په زخیره کی خوندی پاتی شویدی. او د (چالش) کلمه یو ځوک یا کوم حالت مبارزی ته د رابللو په مفهوم نه یواځی داچې ناسم دی بلکی یو ډول بی ادبی هم ده، ځکه (چالش) حاصل مصدر یا حالت اسمی از « چال کردن» به معنی (ګور کردن) است که اصلاً به معنی (جماع) په کار رفته است. او (چالشګر) هغه چاته وایی چې جماع کولو کی ډیر حریص وی.( مراجعه شود به ج ، ۱،ص ۱۳٦۹ فرهنګ معین).

........................................................................

داچې د جماع کلمه د شیخ نفضاوی، عبید زاکانی او ځینو نورو له نظره یو ډول جګړه او جنګ تلقی شویده، نو وروسته بیا

ځینو شاعرانو دا کلمه د جنګ په مفهوم هم کارولی لکه ادیب پشاوری( پیښوری) چې وایی: چالش فرزین و بیدق جنګ پیل ورخ به هم ـــ جز برای پاس شاه و بهر مات شاه نیست.
( امثال و حکم دهخدا ج ۲ ص ۶۰۶)
اوس نو که قدرمن او پوه لیکونکی د (چالش) وضعی معنی کاملاً نادیده و ګڼی او ونه پوهیږی چی د چا یا شی او یا یو حالت چالش ته را بلل و یا به چالش ګرفتن ځومره بده معنی لری او هغه کاروی نو دا بیا یواځی یو وچ تقلید دی چی د کلام ادب او حرمت پکی نه لیدل کیږی. نو ځکه مولانا حق لروده چی ویل یی :

خلق را تقلید شان برباد کرد

ای دوصد لعنت برین تقلید باد

پښتو ژباړه:

تباه شوی په تقلید دی هر ملت

په تقلید دی وی لعنت په زر کرت

کلیوال

که له دی نه تیر شو نو کله چی په یوه ژبه کی ساده مصدرونه موجود وی لکه په دری ژبه کی خواندن، خوردن، دانستن، دیدن او نور چی دوه دری هجاوی لری، دا اسان او ساده مصدرونه یوی خوا ته کول او پر ځایی شپږ هجایی مصدرونه هغه هم جعلی لکه (به خوانش ګرفتن)،( به دانش ګرفتن)، و (به بینش ګرفتن) به هیڅ وجه قابل د قبول خبره نه ده او د ژبی د اقتصادی کیدو د مفکوری سره هیڅ اړخ نه لګوی او د هغی سره به ځرګند ضدیت کی قرار لری او د بی ذوقی ستره نښه هم بلله کیږی چی زه دی ډول تقلید ته میمون ډوله تقلید وایم.
که چیری زمونږ قدرمن شاعران او لیکوالان د دی میمون ډوله تقلید پرځای د وطن د نورو هغو ژبو نه چی د دری ژبی سره په موازی توګه موجودی دی، څه برابری کلمی د دری ژبی ته ورداخلی کاندی، نو دا ډیر غوره کار دی او نه یواځی داچی د دری ژبی د غنَا سبب ګرځی بلکی هغی ته یو مستقل هویت ورکوی او سل کاله وروسته بیا یو ایرانئ دا ادعا نه شی کولی چی پلانی افغان شاعر او لیکوال ایرانی وو، ځکه چی زمونږ ژبه به د هغوی د ژبی نه د همدی کلماتو په شتون سره رابیله شوی وی . پوښتنه داده چی ولی یو ایرانی باید داحق ولری چی هره کلمه چی د هری ژبی نه یی زړه وغواړی په فارسی ژبه کی ورداخلولی شی او مونږ ته بیا دا حق نه راکوی؟ ولی؟
ښاغلی نجیب مایل هروی د انګریزانو او امریکایانو د هم ژبی په هکله ډیر غریدلی دی، خو دی تکی ته یی پام نه دی اړولی چی په امریکا یی انګلیسی کی ډیری داسی کلمی شته چی انګریزان هغه بلکل نه استعمالوی او همدا دلیل دی چی ډیر کرت یو دبل په مقصد نه شی پوهیدلی، لکه اسکاروایلد چی وایی:
«د انګریزانو هر څه تقریباً د امریکایانو سره شریک دی بی له ژبی ځخه» د مثال په توګه امریکایان وای (waiting in line) خو انګریزان ورته (queuing up) وایی یعنی په قطار کی ودریدل. ځنی کلمی لکه (د وزن مقیاس - ) Crisp, braces, boots, bonnet, stoneهسی کلمی دی چی امریکائیان اصلاً هغه نه کاروی. په همدی توګه په استرالیا، نیوزیلاند، هندوستان، او پاکستان کی او نورو انګلیسی ویونکو هیوادونو کی هم همدا ډول نه ورته والی موجود دی.

زه په دی خبره نه پوهیږم چې څنګه او په څه ډول ځنې لشکری او وطنی اصطلاحات چې له پښتو ژبې څخه دری ژبې ته ورغلی دی، دری ژبه د مرګ او نابودۍ په لوری بیایی چې زمونږ ایرانی ورورنو او د هغوی تر بیت شوی ځو تنه افغانان چیغی او ناری سوری وهی چې ( وا فارسی جون ) یعنی ( ای ګرانی فارسی جانې). ایا هغو په زرګونو کلمو چې له یونانی،لاتین، فرانسوی، جرمنی، اسپانوی، ترکی، عربی او حتی له دری فارسی څخه انګلیسی ژبې ته ورغلی، هغه ژبه یی وژلی ده چې د پښتو ژبې یو څو کلمی به دری ژبه و وژنی؟ ( او که بر خلاف هغی ته به نوره هم غنا ور و بخښي؟ ژباړن ) که چیری سیاسی غرضونه موجود نه وی نو زه فکر نه کوم چې دومر وړه او کم اهمیته موضوع دی د دومره سترو نارو سورو ارزښت ولری او د عثمان کمیس دی تری جوړ شی.

ما په پیښور کی د کانت د( عقلِ مطلقِ نظری) د کتاب تر جمه د یوه ایرانی پوه په قلم د محترم او قدرمن استاد غوریانی صاحب سره لیدلی وه، که چیری هغه کتاب اوس هم د محترم استاد سره وی او لطف وکړی یو څو پاڼی یی را کاپی او نشر ته وسپاری ډیر ګټور کار به وی، ځکه ټول به وګوری چې څومره د تکلف نه ډک او مصنوعی نثر دی او یوائځی د عربی کلمو سره د تعصب له کبله دی ښاغلو د سعدی او حافظ په ژبه څه بلا را نازله کړیده؟ ...............

راځی وګوری د ( تاریخ و زبان در افغانستان) په رساله کی د ښاغلی نجیب مایل هروی د دری ژبی د سوچه کیدو د لوی مدعی د سوچه نثر یوه ټوټه:

«عبدالرحمان خان بواسطه اصرارِ مهندسانِ انګلیسی که منتظر محاصره هرات از ظرف روسها بودند حکم به تخریبِ آن عمارات داد و امیر نیز ګوسفند مندانه به ویران کردن شتافت» (زیر عنوان ویران ګری عبدالرحمان خان)

ایا هغه روان نثر چې بیهقی لیکلو همدا دی؟ سړی نه پوهیږی چې دی ښاغلی د « ګوسفند مندانه» ترکیب له کوم ځای نه راوړی دی، د دری ژبی ویونکي پوهیږی چې (مند) د مالکیت او اتصاف پسوند دی مثلاً (دولتمند ـ صاحب دولت)، (هنر مند ـ صاحب هنر)، (هدفمند ـ صاحب هدف) او نور. په دی ترتیب له (کوسفند مند) نه (صاحب ګوسفند) جوړیږی او (انه) پسوند له هغه نوم یا صفت نه چې د (مند) د پسوند سره راغلی وی په قید باندی اړوی او مفهوم یی ( به شوه ای) راځی، نو له دی کبله له (هنر مندانه ) نه جوړیږی (به شیوه ای هنرمند) او نور ..... او له «ګوسفند مندانه» نه جوړیږی (به شیوه ای صاحب ګوسفند). اوس نو که چیری د دری ژبی کوم نوی زده کړئ د دی ښاغلی استاد یعنی نجیب مایل هروی څخه د تقلید په لار روان شو نو مجبوردی چې ځنی داسی ترکیبونه لکه (ګاو مندانه)، (شتر مندانه)، (فیل مندانه)، (مرغ مندانه) او بلاخره (قانغوزک مندانه) هم باید په دری ژبه کی وارد کاندی او یو فوق العاده معیاری او لومړی درجه نثر به ټولنی ته په ارمغان پریدی. که د دی نه تیرشو او خپله جمله وګورو ، نو جمله د عبدا لرحمان خان په (فاعل) باندی پیل کیږی « به واسطهء اصرار مهندسان انګلیسی حکم تخریب آن عمارت داده است». یعنی مطلب داچی عبدالرحمان خان د حکم ورکولو فاعل دی، اوس نو دغه «امیر»چې د (واو) په عطف سره صحنی ته داخلیږی څوک دی چې ښاغلی استاد د «ګوسفند مندانه» کلمه چې که قبوله یی کړو چې سمه ده او قید دی چې په جمله کی کارول شوی دی، خو دغه قید په کوم فعل پوری تعلق لری؟ د (شتافتن) فعل یعنی (امیر مانند ګوسفند دوید)، حال داچی (ګوسفند) بیچاره خو د نورو بی کمالیو تر څنګ د منډی وهلو (دویدن) کمال هم نه لری.بناءً د جناب نجیب مایل هروی په سوچه لیکنه کی دغه فقره چې « حکم به تخریب آن عبارت داد و » اضافی ده. که چیری جناب نجیب مایل هروی د تهران د ادبیاتو له لوړی ځوکی څخه (یا به اصطلاح فرهنګستان پائین روی) کړی وای او په هغی دری ژبه چې په افغانستان کی کی رواج لری لیکلای شوای نو جمله به یی دا ډول وه : «عبدالرحمان خان مانند

گوسفند فرمایش مهندسانِ انکلیسی را پذیرفت وبه ویران کردن آن عمارت شتافت » چې په دی صورت کی د «مانند گوسفند» قید ، د (پذیرفتن) فعل مقید کاوه او جملی سم مفهوم ارایه کولی شو.

ایا دا به تصادفی وی چې زموږ ایرانی ورونه د نجیب مایل هروی غوندی یو افغان زلمی د تبلیغاتو به زور غټوی او بیا د هغه په وسیله غواړی چې د مرحوم علامه استاد عبدالحی حبیبی غوندی شخصیت ورباندی وړوکی و ښای؟ زه په نسخه پیژندنه کی مهارت نه لرم نو له دی کبله د ( پټې خزانی) مو ضوع او د هغی د ریښتینولی مسئله د پښتو ژبی پوهانو او عالمانو خصوصاً خپل گران دوست حیب الله رفیع ته پریدم. ولی زه باورلرم که خدای ج بخښلی استاد علامه حبیبی ژوندی وای نو جناب نجیب مایل هروی ته به یی دا ایات شریف په ځواب کی لیکلی وای: واِن کُنتم فی ریبٍ مما نزلنا علی عبدِنا فاتو بسوره من مثله..........(ط)

جناب مایل هروی په دی هم نه پوهیږی چې هر لیکونکی ځانته د لیکلو بیل طرز او سبک لری او دا دیوه لیکوال د توان نه هیڅ نه ده پوره چې د لسګونو شاعرانو او لیکوالانو د پاره شعر او نثر جعل کاندی او که ممکنه وی نو دا گز دا میدان، جناب مایل هروی او دهغه ټول ایرانی استادان دی همداسی یوه تذکره په دری ژبه کی د اسلام نه وړاندی د شعر او شاعری په هکله جعل کاندی او خپل هنر دی ټولو ته وښای.

هیڅ سالم عقل دا نه شی منلی چې ټولنه دی وی او هنر او ادبیات دی ونه لری، که هیڅ لیکلی اثر هم پیدا نه شی ددی نه انکار نه شی کیدلی چې هم به هنر موجود وو او هم به ادبیات.

پخوا له دی چې خپلی خبری پای ته ورسوم له محترم دوست استاد (رضوی) نه یوه هیله لرم او هغه داچې: محترم استاد یو پخوانی لیکوال او نور لیکوالان ورنه د تقلید کولو افتخارلری، نو که، محترم استاد د ځینو هسی کلمو په استعمالولو باندی تاکید وکاندی چې اصلاً دری کلمات دی خو د زیات استعمال له کبله یی ایرانی صبغه میندلی ده، نو هغه نوی او تنکی زلمیان چې زړه یی د سوچه دری لیکلو ته هوسیږی د استاد څخه به په تقلید سره دا ډول کلمی په بی بندو باری دری ژبی ته را داخلی کاندی او د سعدی صاحب په قول:

اگر زباغ رعیت ملک خورد سیبی

بر آورند غلامان او درخت از بیخ

پښتو ژباړه

د رعیت له باغ که شاه و خوری منه

غلامـان بـه یـی ونـه وکاږی له بیخ

کلیوال

د (کانون دوست داران مولانا) نشریه راته یوه دوست د کابل نه رالیږلی وه، دیو ځوان شعر چې ډیر بد شعر نه و، ومی لوست، د خپل شعر تاریخ یی لیکلی و ( شهریور خورشیدی) ، خو پوهیده چې عادی دری ویونکی (شهریور) نه پیژنی په قوسینو کی (سنبله) لیکلی وه. نور ته اختیار لری استاد رضوی! او زه خپلی خبری داسی ختموم چې : « زموږ شمالی، جنوبی، شرقی

او غربی ګاونډیان باید وپوهیږی چی د آسیا زړه رنځور دی او که دا قوی زړه له حرکت نه ولویږی او ټوټه ټوټه شی نو د زماني ساړه او تیز بادونه به ټوله آسیا د ځان سره په مخه کاندی. علامه اقبال لاهوری هسی نه دی ویلی:

آسیا یک پیکر آب و گل است
ملت افغان درآن پیکر دل است
تا دل آزاد است آزاد است تن
ورنه خاکی در رهی باد است تن

با عرض حرمت

پښتو ژباړه:

له اوبو او ختو جوړه ده آسیا
د افغان ملت یی زړه دی په رښتیا
که آزاد وی زړه آزاد به وی بدن
کنه خاوره ده د باد په مخکی تن

کلیوال

په ډیر درنښت.

پای